آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۵/۱۱

# تینګار



چیرته درومې، درسره یم
که رڼا، که تاریکي وي

لکه سیورى دې څارمه
که بیدیا، که آبادي وي

که بوډۍ شې په شا کړوپه
ماشومتوب او که ځواني وي

په هر حال به جلا نه شم
که آرام، که جانبازي وي

در نه، نه ځم در سره یم
که خپګان، که خوشالي وي

وخت به ځي، ورځې به اوړي
که هجري که میلادي وي

زه به مینه، مینه وایم
که ځواني وي، که پیري وي

زه بې تل تر تله وایم
که وي پټه، که جلي وي

لاس به وانخلم له تا نه
که وي لوږه، که سیري وي

نوره ته پوه شه ستا کار دی
که وي رد، که قبولي وي

۲۰۱۷/۰۴/۲۴
هیدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ